# د پښتو ژبي الفبې

ا ب پ ت ټ ث ج چ ح خ څ ځ د ډ ذ ر ړ ز ږ ژ س ش ښ ص ض
ط ظ ع غ ف ق ک ګ ل م ن ڼ و (هـ ه ـه)
(ي ى ې ۍ ئ)

په دغه لوړو تورو کي دغه اته توري يوازي د پښتو توري دي:

ټ څ ځ ډ ړ ږ ښ ڼ
په هر لغات کښي چي يو يا څو ددغو تورو څخه راغلي وي هغه خاص پښتو لغاتونه دي.

په پښتو کي (ى) لاندي ډولونه لري:

(ى) لکه سپى، سړى، لړکى، دى، واښکى او نور.

(ي) لکه کالي، لري، لړکي، خوري، دي او نور.

(ې) لکه ادې، شيدې، مستې، پايځې او نور.

(ۍ) لکه ملالۍ، ګاډۍ، خولۍ، ملالۍ او نور.

(ئ) لکه ښوونکئ، دئ، زده کوونکئ او نور.

د پاڼي ترتيب کوونکۍ عبدالعلي رسول زاده
alirasulzada@hotmail.com

# اسم یا نوم

اسم چي په سویډني ژبه یې ( substantiv)   بولي د شیانو نوم ته وایي لکه :

بوټ ، هلک ، کتاب ، نجلۍ ، قلم ، مېز ، سدو ، زمرک، ملالۍ او نور.

زده کوونکي دي پر هره لیکه یو اسم یا نوم ولیکي

.............................            .............................

.............................            .............................

.............................            .............................

په دغه لاندي جملو کي تر اسم یا نوم لاندي لیکه کش کئ:

سدو توپ لري.

زمرک ځغلي.

هلک قلم لري.

زه کتاب وایم.

تاسي کور ته ځئ.

د پاڼي ترتیب کوونکئ عبدالعلي رسول زاده
alirasulzada@hotmail.com

# فعل

فعل چي په سويډني يې (verb) بولي د يوه کار کولو ته وايي لکه:

په لاندي جملو کي تر فعل لاندي خط کش سوئ دئ:

دوی کور ته ځي.

ته راغلې.

احمد ډوډی خوري.

سدو ملالۍ ته وويل.

زده کوونکي دي پر لاندي ليکو فعل وليکي.

........................... ..............................

........................... ..............................

........................... ..............................

په لاندي جملو کښي فعلونه پيدا کړئ او بيا تر هر فعل لاندي خط کش کئ:

دوی ښوونځي ته راغله.

تاسي خپل کورنی کور و کړ.

سدو راغئ چي ډوډۍ و خوري.

د پاڼي ترتيب کوونکئ عبدالعلي رسول زاده
alirasulzada@hotmail.com

# صفت Adjektiv

صفت هغه کلمه ده چي پر اسم یا نوم باندي تاثیر کوي او یا په جمله کښي د اسم یا نوم په باره کښي څه وایي لکه : لوی ، ښه، بد ، جګ ، کوچنی او نور .

په لاندي جملو تر صفت لاندي خط کش سوئ دئ ویې لولئ:

ددوی کور د یوه جګ غره تر شا دئ.

حلیمې یو نوئ موټر رانیو .

مور د هغه خوشاله سړي سره خبري وکړې.

احمد یو ښکلئ قلم پیدا کړ .

زده کوونکي دي په لاندي جملو کښي وګوري او پخپله دي صفتونه پیدا کړي:

د مور او پلار عزت ښه کار دئ .

د یوه لوی سیند پر څنډه یو غټ بڼ دئ .

ستا سي په کور کښي مي یو نوئ مېلمه ولید .

تا زموږ زوړ کور خپل ورور ته وښوده.

ملالۍ نن خپل سره کالي پرېوله.

د پاڼي ترتیب کوونکئ عبدالعلي رسول زاده
alirasulzada@hotmail.com

# ضمير pronomen

ضمير هغه کلمه ده چي د اسم يا نوم پر ځای راځي لکه

| | | | |
|---|---|---|---|
| زه | موږ | زما | زموږ |
| ته | تاسي | ستا | ستاسي |
| دی | دوی | دده | ددوی |
| دا | | ددې | |
| دې | | | |
| دغه | | | |

په لاندي جملو کښي تر ضمير لاندي خط ليکل شوئ دئ:

زما قلم چا واخيست؟

ددې خور کابل ته ولاړه.

احمد ستاسي کورته تللئ دئ.

پدې لاندي جملو کښي تر ضمير لاندي خط کش کړئ

موږ د افغانستان څخه راغلو.

دې وويل چي ته کور ته ولاړ شه.

دوی اوس مالمو ته تللي دي.

احمد دغه قلم چيري رانيولئ دئ.

يوه سړي ما ته ډوډی راکړه.

د پاڼي ترتيب کوونکئ عبدالعلي رسول زاده
alirasulzada@hotmail.com

# قید Adverb

قید هغه کلمه ده چي پر یوه **فعل**، صفت یا بل قید تاثیر کوي. په لاندي جملو کښي تر قید لاندي تر قید لاندي خط کش شوئ دئ:

- زمرک په ژړا مور ته راغئ.

په لوړه جمله کښي (په ژړا) د راغئ د **فعل** دپاره قید دئ.

- مورِ یو ډېر ښکلئ بایسکل لرو.

په لوړه جمله کښي ډېر قید دئ د ښکلي صفت دپاره.

- دوی خورا په خوشالي راغله.

په لوړه جمله کښي (خورا) قید دئ د (په خوشالي) قید دپاره چي دغه بیا قید دئ راغله دپاره.

په لاندي جملو کښي قیدونه پیدا کړئ او تر قید لاندي خط کش کړئ:

سدو ژر راغئ.

مورِ یو ډېر زوړ موټر لرو.

ملالۍ کرار ځغلي.

زمرک ډېر په خندا راغئ.

تاسي ډېر وژړل.

دوی په یو ښه نوي موټر کښي راغله.

د پاڼي ترتیب کوونکئ عبدالعلي رسول زاده
alirasulzada@hotmail.com